نوم:  محمد شفیق صافی

مقاله:  چاپیریال ساتنه

موضوع:  په دینی امورو کې د چاپیریال ساتنی ارزښت

1399/6/7

بسم الله الرحمن الرحيم

اپرریال ساتنه دالهي احکامو په رڼا کې:

اسلام د چاپرریال او دهغی د ساتنې د بنسټیزو توکو په ملاتړ کې ځانګړي تاکید او سپارښتنې لري اوهغه هم دانسان د خیر اونیکمرغۍ او د اوسني نسل او راتلونکو نسلونو د اړتیاوو د بشپړولو او تامین لپاره .الله (ج) په لومړی سر کې یې پیدایښت (خلقت ) اوهستي سپی‌ځلې اوله ټولو ککړتیاوو څخه پاک پیدا کړ او انسان ته یی امانت وروسپاره ترڅو خپله هم ترې وخوری او وڅښي اوهم راتلونکو نسلونو لپاره سالمه روغتیا پریږدي او له بې ځایه کارونې اوزورواکۍ څخه ډډه وکړی او د راتلونکي نسل حقونه تلف نکړي .په اسلام کې د طبیعی زیرموغلطه کارونه تیری ګڼ ل شوی اوخورا ډیره غندنه یې شوې. الله (ج) دطبیعي زیرمو څخه د کارونې په برخه کی فرمایي هرڅیز مو پراندازه پیدا کړي . نوهرڅیز مقدار او برید (حد) لري اولازمه ده چی په سمه اوسالمه توګه ترې ګټه پورته شي اوله منځه ولاړ نشي، که چیرې سمه اوښه استفاده ترې ونه شوه نودلته ده چې د طبعیت نظم او انسجام به ګډوډ شي او بشر دمخ پرډ یریدوونکو مصیبتونو اوستونزو سره مخامخ شي ځکه بی‌ځایه اوبې کچې کارونه طبیعي زیرمې له منځه وړي اوکیدای شي چی راتلونکي نسلونو د حقونو د تلف کیدو لامل شي. ځکه نوطبیعي زیرمې د بشر د نسل لپاره الهي امانت دي چې من ځ ته راغلي اودا یوازی د اوسني نسل حق ندی بلکه راتلونکي نسلونه هم په هغه کې برخه اوحق لري اودا یو امانت دی اونه د پخوانیو خلکو میراث اولازمه ده چې امانت پرته له دې چی کوم زیان ووینی په سمه او روغه بڼه راتلونکو نسلونو .ته ولیږدول ش

ایت کی فرمایي۲۷قران کریم د بقرې سوره په

. ژباړه:هغه کسان چې په ځمکه کې فساد کوي د زیانکونکوڅخه دي

اوپه بل ځای کې فرمایی

اسراف مه کوی چې الله (ج) اسراف کوونکي نه خوښوي

اسلام پاکوالۍ اونظافت ته خورا ډیر ارزښت ورکوي اوهغه د ایمان د نښو څخه ګڼي

د مځکي .ټول هغه ژوندي او غير ژوندي موجوداتو ته، چي موږ ېی شا و خوا احاطه کړي يو، (چاپېرريال) ويل کېږي
طبعي چاپرريال د (ايکوسيسټم) په نامه يادېږي، چي ټول انسانان، نباتات، غرونه، واوري، فضا، ډبري، سمندرونه،
الله (ج) ايکوسيسټ.دريابونه او د هغوي طبعي منابع لکه اوبه، برښښنا، اور، هوا، اقليم او داسي نور پکښي شامل دي
م داسي جوړ کړئ دئ، چي په دې سيسټم کي ټول موجودات يو له بل سره په مستقيم ياغير مستقيم ډول تړاو لري
او د هر يوه کمښت يا ډيرښت پر دا نورو مثبت يا منفي تاثير کوي، ځکه الله (ج) ټول شيان په ټاکلې اندازه پيدا کړي
دي.

(سورت .د دې خبري ثبوت الله (ج) په قران شريف کي داسي را وړی دئ: (موږ هر څه له يوې اندازې سره پيدا کړي دي)
. ايات)۴۹قمر

) ايات کي الله (ج) فرمايي: (موږ مځکه غوړول،، په هغې کي مو غرونه نصب کړ۱۹همدارنګه بل ځای د سُوْرَةُ الحِجر په (
.ي، په هغې کيي مو هر ډول نباتات په ټاکلي او تللي اندازه را ټوکولي دي)

٪) ده، که تر دغه ډېره سي مځکه کدداي سي د يوې کوچنۍ لمبې څخه ۲۱د مثال په ډول په هوا کي د اکسجن اندازه (
٪) لږ ۱ همدا رنګه د کاربن ګاز په هوا کي تر (.و سوځي او که تر دې لږ سي، ټول ژوندي مخلوقات به ځيني مړه سي
دئ، که چيري تر دې ډير سي انسانان به ځيني مړه سي او که لږ سي نباتات به ځيني مړه سي، نو د دې له پاره چي دا
سيسټم داسي منظم روان وي الله (ج) د ونې د بلګ په شکل داسي فيلټر جوړ کړی دئ، چي ککړه هوا په پاکه هوا
که په مځکه کي په کافي اندازه .بدلوي يعني ونه ککړه هوا (کاربن ډای اکسايډ) جذبوي اوپاکه هوا (اکسيجن) اخراجوي
ونې نه وي، چي ټوله کاربن ډای اکسايډ جذب کړي، نو کاربن ډای اکسايډ په هوا کي پاتېږي او ورځ تر بلي ډېرېږي؛ ځ
که هره ورځ نوي نوي کاربن ډای اکسايډونه توليدېږي، چي د هوا د ککړتيا سبب ګرځي، نو کله چي هوا ککړه وي د لمر
وړانګي مځکي ته په صحي توګه نه سي رسېدلاي، چي اکسجن جوړ کړي؛ ځکه نباتات د (پوټوسينتيسيز) د عملېې
په ذريعه د لمر د وړانګو څخه اکسجن توليدوي، چي په نتيجه کي ټول هغه حيوانان او نباتات له منځه ځي، چي د
ګرمي او ککړي هوا سره حساست لري.

بې .همداسی د اوبو سطحه لوړېږي، ځکه واوري او يخيان چي کلونه کلونه په يخو سيمو کي يخی پاته وه ويلېږي
موسمه بارانونه او واوري اورېږي، چي د زراعت له پاره ډير مُضير تمامېږي او د سمندرونو او بهرونو اوبه ترويې کېږي،
.چي په نتيجه کي خوږې اوبه کمېږي او داسي نور ډير بد عواقب له ځان سره لري

د دې له پاره چي دا فيلټر د مځکي چاپرريال او هوا پاکه وساتي، الله (ج) د مځکي پر مخ دونه اندازه ونې را شنې کړ
٪) ځنګلونو ۳۰ي و،، چي د مځکي د مخ د ټول کاربن ډای اکسايډ د جذبولو له پاره کافي و،، يعني يوازي د مځکي مخ (
نيولی دئ، خو دا فيصدي ورځ تر بلي کمېږي؛ ځکه يو څو محدود انسانان ئې د خپلو شخصي ګټو له پاره هر کال تقريبا
٪) څخه تر ۰.۱۸) زره کيلومتره مربع (تقريباً د افغانستان د مساحت په اندازه) ځنګلونه له منځه وړي، چي هر کال د (۶۰(
.) پوري ځنګلونه کمېږي٪۰.۲۲(

الله (ج) په قران مجيد کي د دغو انسانانو په باره کي فرمايي: (په وچه او لنده کښي د خلکو ((د لاسونو)) په عملونو
سره فساد ښکاره سوی دئ، نو (الله) پر دوی باندي د هغو عملونو ((د سزا)) خوند چيښي، چي دوی کړي دي، ښايي
. ايات)۴۱ (سُوْرَةُ الرُوم .چي دوی را وګرځي)

څونه وني چي د ځنګلونو څخه ربېل کېږي، د هغه په اندازه ونې بايد وکرل سي، تر څو دغه ضايع تر يو حده را وګرځ
.وي، کنې په لږ وخت کي به انسانان د غذا او اوبو د نشت سره مخامخ سي او د مځکي پر مخ ژوند کول به نا ممکن سي
په اسلام کي دغه ټول مشکلات په نظر کي نيول سوي دي او د حل لاري ېې ورته برابري کړي دي؛ د مثال په ډول: رسول

الله (ص) فرمايي: (که چيري قيامت پښښږدئ او ستاسو د يوه په لاس کی يو نيالګی وو، نو که چيري ستاسي طاقت وي، چي قيامت قائم نه سي، تر څو تاسي دغه نيالګی کښېنوی، نو تاسي دغه نيالګی کښېنوی)، (الجامع الصحيح اسلام عام خلګ دې ته هڅوي ګرهڼي ته وده ورکړي څکه کرهڼه ده چي په چاپرريال ساتنه کي لويه .للسنن والمسانيد) دمثال په ډول (رسول الله (ص) فرمايلي دي: .ونډه لري، او هغو خلګوته چي په کرهڼه اخلي زيات امتيازات ورکړي دي . (صحيح البخاري).کوم کس چي يوه مځکه اباده کړل او هغه دچا حق نه وه نو دغه کس دهمدې مځکي حقدار دي) (حضرت محمد (ص) عليه وسلم به يهودو ته مځکي ورکولې چي کښت پکښې وکري او دوي ته به ئې دحاصل نيمايي ددې پورتني حديث څخه معلومېږي (حضرت محمد (ص) عليه وسلم .( مختصر صحيح البخاري).برخه هم ځيني ورکول .تر انسانانو تر دين او مذهب و چاپيريال ساتني ته ډرر اهمت ورکوي

حضرت محمد .همدارنګه اسلام هغو انسانانو ته په عذاب سره اختار ورکړی دئ، چي ونې او ځنګلونه له مننځه وړي (ص) عليه وسلم فرمايي: (څوک چي  يوه درخته پرې کړي، نو الله(ج) به د ده سر په اور کي داخل کړي)، يعني (داسی درخته چي په دښت کي ولاړه وي او د مسافر يا يو حيوان له پاره سايه برابروي، هغه ناحقه او د ظلم په وجه پرې کړي . (ابو داؤد).او پر دغه درخته باندي د ده حق هم نه وي تړلی)، نو الله(ج) به د ده سر په اور کي داخل کړي)

د دې حديث څخه معلومېږي، چي اسلام د چاپرريال په ساتلو او سالم ايکو سيسټم درلودلو باندي څونه ټينکار کړی د اسلام په اولو شپو کي مسلمانانو په اسلامي اصولو ډرر عمل کوی او د دوی د دغه عمل په نتيجه کي د مسلمانانو .دئ مسلمانانو يو عصري او پر مختللی ژوند درلودی او داغه د اسلام .زراعت او زراعتي تجارت په نړۍ کي بې ساري وو د دې خبرو .مقصد دئ، چي هر فرد بايد هوسا او ارام ژوند ولري، خو دا هغه وخت کېږي چي په اسلامي اصولو عمل وسي ښه ثبوت د اسلام په اولو څلور سوه کلونو کي په اسلامي هيوادونو کي د زراعت او ساينس پرمخ تګ دئ؛ د مثال په ډ همدا رنګه اول پوهنتون او ډيګري .ول: په نړۍ کي اول ساينس پوه يو مسلمان وو، چي څررنه ئې اختراع کړه د اوبو لګوني پرمختللی او عصري سيسټم مسلمانانو اختراع کړی دئ او مسلمانان وه، چي د .مسلمانو جوړه کړې ده لومړي ځل له پاره ئې د يوه هيواد څخه بل هيواد ته د مووو ونې انتقالولې او هلته به ئې داسي چاپرريال ورته تياروی، .چي ونه ژوند او وده وکي او مووه ورکي

داسي نوري ډرري لاسته راوړني و،، چي د اسلامي اصولو په عملي کولو سره مسلمانانو درلودلې او يو عصري او پرمختللي ژوند ئې درلودی، خو کله چي مسلمانان په خپلو کي په جنګ سره اخته سول او اسلامي اصول و قوانين ځيني مات سول .، نو غير مسلمانانو د دوی هغه ساينسي لاره تعقيب کړه او ځان ئې تر دغه ځايه را و رساوه

په شلمه پړرۍ کي د (ګرين ريوولوشن) يا (شين انقلاب) تر اختراع وروسته پر مختللي هيوادونو هم د اسلام زراعتي اصول مات کړل، داسي دواوي (درمل) ئې اختراع کړل، چي د هغو په ذريعه په لږ وخت کي نباتات وده وکړي او ډرر همدارنګه ځيني داسي درمل ئې جوړ کړل، چي حشرات مړه کړي او يا ځيني .حاصل و پيسی لاسته ځيني راوړي محدود واښه له مننځه يوسي، خو هغو د ځينو مُفيدو حيواناتو او نباتاتو نسلونه ختم کړل او ډررو انسانانو ته ئې صحتي او ځاني زيانونه واړول او همدارنګه ئې د زراعتي مځکو له پاره ګڼ شمرر ځنګلونه هم له مننځه يو وړل او .هم ئې مختلفي ټکنالوجياني کار کړ،، چي د تيلو په ذريعه چلېدلې او چاپيريال يې ککړوی

د دې کار نتيجه دا سوه، چي د څو کلونو په موده کي ئې د نړۍ د تودوخي درجه لوړه کړه، اقليمونه ئې بدل کړل او دغه ناورين ساينس پوهان دې ته مجبوره کړل، چي پر خپلو کړنو له سره غوَر وکړي او حل .چاپيريالونه ئې ککړ کړل لاره ورته پيدا کړي، نو څکه خو ډيرو سايسنس پوهانو پر اسلامي زراعتي پاليسيو بيرته کتني کړي دي، چي د اوسني ناورين مخه ونيسي؛ څکه اسلام هغه دين دئ، چي خپلو پيروانو ته د نړۍ د خوندي ساتلو درس ورکوي، په هر کار کې .ميانه روي خوښه ده او پر مسلمانانو ئې لازمه کړې ده، چي په هېڅ کار کي تر حد تړر نه سي

حديث دئ: چي رسول الله(ص) تړرردئ، چي په دې وخت کي سعد اودس تازه کاوه، نو رسول الله (ص) ورته و ويل دا څ ونه اسراف کو؟؟ نو سعد ورته وويل ايا په اوداسه کي هم اسراف سته؟ رسول الله (ص) ورته و ويل: هوا! که څه هم ته د . (سنن ابن ماجه).بهددونکي ويالې پر غاړه ناست يې)

.د دې څخه معلومېږي چي اسلام په خپلو پاليسيو کي ايکولوژيکي انډول (ايکولوژيکل بالانس) په نظر کي نيولی دئ

(ایکولوژیکی انډول یوه باثباته چاپرریال ته ویل کیږي)، داسي چاپرریال چي زیات شمرر مختلف النوعه مخلوقات ژ وند پکښي کوي او هر یو پر بل باندي تاثیر هم لري؛ مثلاً: که د یوه هیواد وني کمي سي، نو پر انسانانو او حیوانانو ئې منفي تاثیر کوي ځکه د خوړو، اوسډدو، تنفس او داسي نورو منبع ئې کميږي او که ئې چیري بیا حیوانان تر اندازې زیات ښکار سي یا په بله ذریعه له منځه یوړل سي، هم پر نورو حیوانانو، نباتاتو او انسانانو منفي تاثیر کوي، ځکه حیوانان په چاپرریال کي د خدمتګار دنده لري او هم غذایي منبع ده، یعني ځیني حیوانان دنباتاتو په القاح کي مرسته کوي او ځ ځیني دفاعي دندي لري، یعني مُفید حیوانان یا نباتات د مُضیرو .یني بیا د نورو حیوانانو او نباتاتو دغذا سبب ګرځي حیوانانو څخه و ساتي او داسی نور... نو که چیری ځینی مرغان تر اندازې زیات ښکار سي یا وني و ربړل سي، نو دغه الله (ج) تر حد .پورتنی سیسټم ټوله زیانمنوي؛ ځکه خو الله (ج) فرمایي: خورئ، څښئ او له حد څخه تړرری مه کوئ .)۳۱ (سورت اعراف:.تړرری کوونکي نه خوښوي

همدارنګه رسول الله (ص) فرمایي: (کامل مسلمان هغه دئ، چي د هغه د ژبي او لاس د ضرر څخه مسلمانان محفوظ وي). (رواه البخاري ومسلم).

که چیري یو مسلمان تر اندازې زیات حیوانان ښکار کړي، یا وني و ربړي نو هغه چاپرریال ته زیان رسوي او زیانمن چاپ ځیني .رریال بیا انسانانو ته زیان رسوي، یعني په غیر مستقیم ډول نور مسلمانان د ده د لاس د ضرر څخه محفوظ نه سول نور عوامل چي چاپرریال ککړوي، هغه رسول الله (ص) داسي بیان کړي دي: «ځانونه د هغو درو ځایونو څخه و ساتئ، چي لعنت پر ویل کیږی: اول په لارو او کوڅو کي قضائي حاجت کول، دوهم د درختو تر سایو لاندي  قضائي حاجت کول . (سنن ابي داود).اودریم د لویو لارو په مابین ( یعني ګلدانونو کي) قضائي حاجت کول)

یعني هغه د الله د عذاب لایق ګ.)۵۲ (سورت النساء: .پر چا چي د الله جل جلاله  لعنت وي، د هغه هیڅوک کومکي نه وي که چیري هر مسلمان اسلامي اصول پر ځان کي عملي کړي او د خپل چاپرریال خیال وساتي، نو د ټولي نړۍ .رځي ) ۱.۶انسانان به پاکه هوا، خوږې اوبه، مکمل خواړه، روغ صحت او ارام ژوند ولري؛ ځکه په نړۍ کي د مسلمانانو نفوذ ( .٪) جوړوي او د نړۍ په هر ګوټ کي موجود دي۲۵بیلیونه دئ، چي د ټولي نړۍ تقریباً (

د دغه پورتني اصولو په عملي کولوخصوصاً د نیالګیو په کرلو او ساتلو سره به مو هم خپل ځان، کورنۍ، ښار او هیواد ته ګټه رسولې وي او هم به مو ثواب ګټلی وي؛ ځکه رسول الله (ص) فرمایي: (که یو مسلمان  یو نیالګی کښېنوی او یا یو کښت وکري او بیا د دغه نیالګي یا کښت څخه یو مرغه یا انسان یا بل حیوان خوراک وکړي، نو دا به د ده له . (بخاري).پاره په خیرات کي حسابل کیږي

## مصادر


- قرآن کریم
- سنن ابی داود
- سنن ابن ماجه
- صحیح البخار
- صحیح المسلم
- الجامع الصحیح للسنن والمسانید
- تاریخ تمدن اسلام